مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۱/۲۰

# د ژونـــد بـیــړی

## غزل

احساس مې غلی غلی د رباب په لورې درومي
توپک نـه کـوي کرکه د کتاب په لورې درومي

له اوښکو سره کـډه مـې ارمانـونـه دي بهـېږي
قدم مې وهي اوښکې د سیلاب په لورې درومي

خبـر یـم بنه سهي د میني لار کې شته مـرګونه
خو بیا مې هم زړګی ستا د شباب په لـورې درومي

هر تـنـدر مې لیدلی هـر توپان راته ځرګند دی
د ژوند بیړی مې ځله د ګرداب په لورې درومي؟

صـحرا او د ځنګل لارې شـوې بندې پسرلـیـه
ګناه شوه ورنـه پاتـې د ثواب په لورې درومي

** * **

۲۰۱۸/۰۱/۱۹



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com